
خديجه، ملاله، سيف او منان په دويم
ټولګي کي دي - دوئ يو ځائ بازۍ او د
ښوونځي کار کوي- د يو بل ډېر خيال ساتي-




یوه ورځ منان خپل ټولګي کي ناولده هلک
ولیدی- هغه غلی او غمجن ناست ؤ- یو څو
شرارتي هلکانو وربانديټوقي مسخرې کولې-




منان ورځخه د نامۀ پوښتنه وکړه- هغۀ خپل
نوم رېحان وښود- منان : تۀ ولي غمجن ئې؟
رېحان: ځکه چي زما دلته څوک ملګري نسته-




ټولو ملګرو د بازۍ کولو اراده وکړه- د بازۍ
سامان ئې هم  راوړ-  هر ملګري زور لګولو
چې هم د هغوئ د خوښې بازۍ به کېږي-



منان ووئيل، نن به د رېحان د خوښي بازۍ
کوو- رېحان ووئيل، زما خو کرکټ خوښ دی-
منان ووئيل، راځئ چي نن ټول کرکټ وکړو-



ټولو ملګرو په یو ځای کرکټ وکړو د ریحان
پرېشاني اوس ختمه سوه- هغه ډېر خوشحاله
شو چي دومره ښهٔ دوستان ئې و موندل-



منان د رېحان څخه پوښتنه وکړه، ته چیرته اوسېږې- رېحان : د ډاک خانې سره- سېف: زه هم هلته اوسېږم- د نن څخه به یو ځای ځو راځو-



بنیادي پوښتنه

مورې له په ښوونځي کي د نوي ملګري خیال ولي ساتل پکار دي؟

## د لوستلو صلاحیتونه او حکمت عملۍ

| | |
|---|---|
| ږغ پوهنه : | اوږد او مختصر حروفِ علت بیا بیا لوستل |
| د ټکو پانګه: | ملګري، مرسته، غمجن، ټوقي ، مسخرې، شرارتي، لیدۀ کاته، پېژندګلو ، ټلۍ، و ږغېده، دوستان، اوسېږي، څو راځو ، ډاک خانه |
| ژب ښوونه: | واحد ، جمع |

## لېولډ ریډر

په یو ټولګي کي د لوستلو د صلاحیت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، منځنۍ او د بهترې درجي لوستونکي- د دې صلاحیتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ ریډر په نوم مختلفي قیصي لیکلي سوي دي- د دې لېولډ ریډر متن په رو رو زیات کړل سوی دی- د لېولډ ریډرز بنیادي مقصد ماشومان خپلواکه لوستونکي جوړول دي- د ٢٤ اونیو د پاره د لېولډ ریډر ٨ سېټونه تیار کړل سوي دي- د هر یوه لېولډریډر سېټ د پاره درې اونۍ ټاکلي سوي دي- د هر یو لېولډ ریډر په څیر مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو اړوند مهارتونو کړني ورکړل سوي دي-

د چپایۍ پر وخت د دې موادو د هر ډول غلطۍ څخه د پاک ساتلو د پاره په زړۀ پورې کوشش سوی دی- بیا هم کۀ چیرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کي څۀ قسمه غلطي ښکاره سوه نو مهرباني وکړئ په دې اړه زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې مرستې د پاره به مورې ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښووني

**د لومړيو درېو مخونو څخه وروسته لاندينۍ تفهيمي پوښتني وکړئ-**

1. منان په خپل ټولګي کي څوک وليدل؟
2. رېحان ولي خفه ناست ؤ؟

**د نيمې قيصې څخه وروسته لاندينۍ تفهيمي پوښتني وکړئ-**

1. منان وکتل چي شرارتي هلکان رېحان تنګوي نو هغۀ څۀ وکړل؟
2. رېحان چي ووئيل زما دوست نۀ شته نو منان رېحان ته څۀ ووئيل؟
3. منان ولي رېحان خپلو ملګرو سره ملاوېدو له بوتلو؟

**د قيصې په پائ کي لاندينۍ تفهيمي پوښتني وکړئ-**

1. ستاسو په دې قيصۀ کي څوک څوک خوښ شول؟ ولي؟
2. که چيرې ستاسو ټولګي ته نوی هلک/انجلۍ راشي نو تاسو به ورسره څنګه سلوک کوئ؟ ولي؟


www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلګو په مرسته د امريکې بېن الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن سوې ده- دا مواد يو اېس اېډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چي دا د يو اېس اېډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-